

لوی مانچستر

د لوی مانچستر
LOCAL MATERNITY AND
NEONATAL SYSTEM


# آسپرین (Aspirin) په مېندوارۍ کې

## د ناروغ معلوماتي پاڼه






Pashto




## ولې له ما غوښتل شوي چې اسپرین وخورم؟

اسپرین د مېندوارۍ په لومړیو کې بدن ته وینې جریان په ډېرولو کې مرسته کوي او دغه راز مرسته کوي چې ماشوم مو سمه وده وکړي.

تاسو د پري ایکلامپسیا له خطر یا د کوچني ماشوم زیږولو سره مخ یاست.

پرې ایکلامپسیا یوه د مېندوارۍ ستونزه ده چې د وینې لوړ فشار سبب کېږي.



تاسو ته ویل شوي چې 150mg اسپرین د مېندوارۍ په بهیر کې هر ماښام وخورئ. د شپې لخوا (د شپې تر 6 بجو وروسته) یې له خوړو سره وخورئ.

## پري ایکلامپسیا څه ده؟




پري ایکلامپسیا یو ډول اختلاط دی چې په هرو 100 مېندارو ښځو کې له 2 تر 8 ښځې اغېزمنوي او معمولاً د مېندوارۍ په دویمه نیمايي یا همدا چې زیږون وشي، رامنځته کېږي. یاد اختلاط ستاسو او ماشوم لپاره د جدي اختلاطونو سبب کېږي، که ونه څارل شي او درملنه یې ونه شي.

که تاسو ته پري ایکلامپسیا رامنځته شوې وي، نو ښایي لاندې شیان تجربه کړئ:




- سردرد
- د لید ګډوډي
- د لاسونو، پښو یا مخ پړسوب



**که دغه چاره پر تاسو پېښه شي، په مهربانۍ سره د زیږون د معاینې خانګې ته زنګ ووهئ.**


ستاسو ډاکټر یا قابله ممکن پوه شي چې تاسو پري ایکلامپسیا لرئ، که مو د وینې فشار لوړ او په تشو میتازو کې مو پروتین شته وي او دغه راز د وینې غیر نورمال ټستونه ولرئ.



## که مې ماشوم کوچنی وي، ولې دا چاره مهمه ده؟

ځینې کوچنیات د تمې وړ اندازې په پرتله کوچني وي. یاد ډول ماشومان د وختي زیږېدو لوړ خطر لري او باید نوزیږي په روغتیایي برخه کې داخله وکړي. دغه راز دوی تر وخت وروسته زیږون له خطر سره هم مخ دي.

که مو ماشوم کوچنی وي، نو اضافي معاینې به درته وړاندیز شي لکه سکنونه او د زړه ضربان څارنه ترڅو دغه خطرونه وازمویل او راکم شي.



## څنګه Aspirin ترلاسه کړم؟

د دې کال لپاره دوې لارې شته دي:

- له خپلې قابلې څخه یې وغواړئ. قابله به مو یا Aspirin په وړیا توګه درکړي یا به هم مرسته درسره وکړي چې د روغتون له درملتون څخه نسخه ترلاسه کړئ.
- په سوپر مارکېټ کې یې وپېرئ. قیمت یې تر £2 کم دی او 75mg یا 300mg ټابلېټونو کې راځي. **په ورځ کې یو ځل 150mg د ماښام لخوا وخورئ.**



مخکې تر دې چې Aspirin مو خلاص شي، له خپلې قابلې سره خبرې وکړئ یا کولی شئ په سوپر مارکېټ کې یې وپېرئ.

# ولې باید اسپرین وخورم؟





Aspirin خوړل د مېندوارۍ په 8 اونۍ کې پیل کړئ. د غوره اغېزې لپاره یې تر 16 اونیو مخکې پیل کړئ.

د مېندوارۍ تر 36 اونیو یا تر هغه وخته پورې هره ورځ د ماښام لخوا 150mg وخورئ چې قابله مو درته ووایي چې بس یې کړئ. مخکې تر دې چې کم شي، له خپلې قابلې سره ووینئ یا کولی شئ په سوپر مارکېټ کې یې وپېرئ.

Aspirin خوړل د مېندوارۍ په 36 اونۍ کې بند کړئ. که مو د ماشوم زېږون تر دې وخت مخکې پیل شي، نو Asprin خوړل بند او خپله قابله خبره کړئ. که ستاسو ډاکټر وایي چې تاسو باید Aspirin په ټوله مېندوارۍ کې وخورئ، د مثال په ډول د زړه د ستونزو له امله، نو له هغه پوښتنه وکړئ چې بیا یې څه وخت خوراک بند کړئ.

که د پیلولو یا بندولو د وخت په هکله پوښتنې لرئ، نو سملاسي خپلې قابلې ته زنګ ووهئ. د Aspirin پیلولو لپاره راتلونکې لیدژمنې ته صبر مه کوئ، ځکه تر 16 اونیو مخکې پیلول مهم دي.



**باید د Aspirin تر خوړلو مخکې خپلې قابلې یا ډاکټر سره خبرې وکړئ، که تاسو**

- د معدې فعال یا پخواني زخمونه ولرئ
- د وینې اختلالونه ولرئ
- عمر مو تر 16 کلونو کم وي
- هیموفیلیا ولرئ
- زړه مو شدید له کاره لوېدلی وي
- له Ibuprofen یا Aspirin یا هم ورته درملو سره حساسیت ولرئ
- د Ibuprofen یا Aspirin یا هم ورته درملو په وسیله مو سالنډي لا بدتره شوې وي

د اسپرین بسته معلوماتي پاڼه له ځان سره لري چې تاسو ته وایي چې په مېندوارۍ کې اسپرین ونه خورئ، مګر دا چې ډاکټر درته ویلي وي چې ویې خورئ.






متخصصی سپارښتنه کوي چې اسپرین د پري کلامپیسیا د خطر او په هغه صورت کې د کوچني ماشوم لرلو د خطر راکمولو لپاره کارول کېږي چې د خطر عوامل یې شته وي.

**Aspirin پهمېندوارۍ کې ماشوم ته د خطرونو رامنځته کېدو سبب نه کېږي.**

## د اسپرینو جانبي اغېزې څه دي؟



د احتمالي جانبي اغېزو لپاره د اسپرین په قوطي کې شته معلوماتي پاڼه وګورئ.

د مېندوارۍ په بهیر کې د Aspirin دغه دوز خوړل د سقط، مهبلي خونریزۍ یا تر پلاسنتا شا ته خونرېزۍ چانسونه نه زیاتوي.



## بیا څه کیږي؟

مور ږ به تر زیږون مخکې په هره لیدژمنه کې ستاسو د وینې فشار او تشې میتازې په کتلو سره تاسو او ماشوم مو په ټوله مېندوارۍ کې تر څارنې لاندې ونیسو تر څو د پري کلامپسیا نښې نښانې وګورو.

## که نور درمل خورم، نو؟



اسپرین له نورو درملو سره غبرګون ښودلی شي. مهمه ده چې خپل ډاکټر یا قابله پر نورو هغو درملو خبره کړئ چې تاسو یې خورئ، نباتي او له نسخې پرته پلورل کېدونکي محصولات پکې شامل دي.

**که هر ډول جانبي اغېز درته پیدا شي یا په مېندوارۍ کې د اسپرینو خوړلو په هکله پوښتنې لرئ، په مهربانۍ سره خپلې قابلې یا ډاکټر ته زنګ ووهئ.**



انځورونو کاپي حق Easy-on-the-i*
Leeds and York Partnership NHS Foundation Trust.

CS58103 NHS Creative 2025